صلاح الدین سعیدی ۲۰۲۰/۰۳/۲۸

# سوله او لنډ مهاله حکومت!

(خپلې زړې ليکنې ته لاندې نوې کتنې سره ګډ او درلېږم).

سوله به کوو، خو سياسي سوله. ايدیالوژيکي سوله او سياسي مصالحي پر ځاى او سياسي مصالحي د ميز پر سر مناظره کول او د ايدیالوژيکی مناظرې بحث قاتى پاتي کول له سره خطاء، د وقت ضياع او د ملت د تراژيدی اوږدول دي. داسي افراد چي سياسي مسؤولينو کي هم دي، په تأسف سره کم نه دي. سوله او استقرار، با عزته سوله او هغه چي د بلي جګړې لپاره تيارى نه وي ، زمونږ حق دى او ملت سوله غواړي. ښه شو حزب اسلامي سوله وکړه، سوله وکړئ بيا درته يو څو دولتي څوکى درکوو، سلاح مو تسليم کړئ، راځئ زمونږ تر اداري لاندي چي سوله وشي، راته تسليم شئ، مونږ هغه پروني نه يو او مدرن شوي يو، له مونږ مه ويرېږئ اوس سربازان په تېره چاړه حلالوو، د سولي خبرو کي بايد د سيمي هيوادو اجماع تر لاسه کړو، والصلح خير، دااو داسي نو شعارونه او تأکيدات چي تور، سپين، مقدس نصوص، غنم، سياه دانه، جودر او ... ګډوډ سره ګډوي او ګمان کوي چي مانا دار خبر مي وکړه په يقين د چوکى، قدرت، پيسو او خود خواهى څنګ ته د ستر حماقت او ناپوهى او د ضميره انسان مشخصات هم دى. هو لاره ترې ورکه ښکاري، نه پوهيږي څه وايي که عمداً رينتيا او درواغ ګډوډ ، په عمدي او يا د ناپوهى له وجهي وړاندي کوي او ځان ورته هوښيار ښکاري. د جناب داکتر عبدالله عبدالله د ۲۰۲۰/۳/۲۶ تلويزيوني اظهارات داسي اوتي بوتي لرلي او لري. هغه غر دی او هغه لمر، زه په حقه يم او چوکی غواړم. دا د اوبو خړول، ګډي وډي ويل، نور ملت نه شي غولولاى. ددي کار او کړنو لامل د جهالت او خودخواهی تر څنګ د پردي او په ځانګړي توګه د افغان دښمنه، سولي او اسلام دښمنه، مکارو همسايګانو موخو ته خدمت وکول او ځيني يي سياسي قدرت ته په هر دنايت او رذالت ځان ورسول هم دي.

هغه غټ ناست سياسي معتبر؟! شنونکي غټ غټ اکټ او غټي غټي خبرى لکه چي خط کش يي خوړلاى وي هم د تأسف حالت دى. دوى خلک او اذهان مغشول غواړي او خپلو ناروا موخو ته ځان په هر قيمت رسول غواړي. د مسلمانى دعوه هم لري، د کرونا رنځ، مرګ او د الله (ج) دربار او عدالت ته درېدل هم ورنه هېر ښکاري.

زه له سره په ده نه پوهيږم او منطق مي اجازه نه ورکوي چي زه به د طماع او ظالم همسايه اجماع څنګه تر لاسه کړم چي اوبه، برق، معدن، متخصص، انساني قوه، سرک او لار مي، خاوره او مځکه مي تصرف او اختيار کي لري، په وطن مي زرهاو ګولی اوروي او د سيمو خلک له خپلو زرکلنو سيمو کوچوي او د جنرال زيدحامد د ۵۰ کيلو مترى فاصل زون د افغانستان او اوسني پاکستان تر مېنځ د امريکي په مصرف جوړوي او دوى دي ته قانع



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و يا spineghar@gmail.com

او اجماع وکړي. دوی د طالب د سوټي او جګړي له برکته زما د وطن داخل کي په خپله خوښه خپل سرحد جوړ کړي او پیسي یې هم بهرنیان او زما ظاهر کي متحد ورکوي. ددې خبرې منطق چېرې او څوک داسي هېواد زما وطن کي اجماع ته راولي او دسولي خبرې به کامیابېدو ته پریږدي؟ دا هیڅ سلیم عقل نه شي منلای او دا غېر عملي خبرې دي !
د داسي او ورته افکارو زه یو څو یابوان غټ غټ تلویزیونو کي ناست، د پښتو ټیکه دار او د اقتصاد ډاکتر، د فن متخصص او شنونکی ځان ته هم وایي او اضافه کوي چي طالب سره مو مسکو کي ولیدل، سوله راځي اومونږ ورسره پاکي خبرې وکړې او توافقات مونږدي دي. وایي چي طالب ومنله چي د انجونو د تعلیم مخالفت نه کوي، خو د ښځو د قضاء برخي کي چي ښځې قاضي نه شي کېدای توافقات موسره وکړل، او نور هم ورسره توافق کوو او دا مسایل به ورسره توافق وکړو حل به شي او ... دغه متخصص!؟ څېړونکي !؟ دغو اسلامي بحثو له اساسه بې خبر ، اسلام کي د قاضي مسأله، د انجنو د تعلیم مسأله، د ښځو د کار مسأله، او ورته مسایلو نه د طالبي برداشت او عقیدې نه له سره دا یابو! متخصص بې خبر ښکاري. په یقین دده اظهارات دده د ناقص پوهي مسئله هم دده له اظهاراتو ثابتوي او تأکید لري چي دې خبرو کي د طالب سره توافق کیږي. دا مکتب او مشخص فهم او تعبیر د دیني مسایلو دی او دې برخه کي تاسي مسکو کي توافق نه شئ کولای او بیا دا ستا کار نه دی چي د ملت له نومه دې مسایلو کي چا سره توافق د مذاکراتو د میز په سر وکړئ! ددې مسایلو حدود او ثغورو د سولي کنفرانسو کي تعین لکه د نورو اساسي مسایلو په شان د سیاسي مصالحي او مذاکراتو د بحث موضوع نه ده او دا د ملت او اسلامي علماو صلاحیت دی، نه د هر یابو!؟ سیاسي مصالحي او مذاکراتو کي د ارزشونو قبول د اسلام، د ملت د انتخاب او د هغو لخوا د مشروعیت ورکولو فیصله او حق دی!
بل تصمیم او بله پریکړه دا د کوم قوی؟! ټیم کار هم نه دی، دا د ملت په غیاب د ملت د صلاحیت محروموول دي.
د مذاکراتو یواځنی اجندا دا ده چي ملت څنګه اصلي تصمیم نیونکی شي.
داسي حال کي چي سیاسي قدرت د یوې خوا انحصاري لاس کي دی، کوم میکانیزم فعال شي چي د خلکو او ملت اراده د احزابو، سازمانو او مشخصو نسخو ته د تطبیق مشروعیت ورکړي. بل بحث اضافي، د وخت نه مخکي او د صلاخیت نه بهر بحث دی.
دغه متخصصینو او څېړونکو ته چي ماورته د پابو لقب ورکړ علت یې چي یابو د خره او آس له ترکیبه جوړ موجود دی. اصل او نسب یې نه دی مالوم.
په تېرو اتلس کلو کي دغو مسایلو ته عدم دقت، په خپلو بې کفایتو کړو دا وطن تباه کړ، قومي او سمتي تربګنی یې د اسلام د وحدت د پراختیا د مخنوي په خاطر هم چي وي، چاغي کړې او اوس پخپلو خبرو او تأکیداتو کي داسي ښکاره افاده کوي چي دا معضل او دا کړکېچ زمونږ داخلي کړکېچ او مونږ خپلو کي په توافق رسو او همسایه ګان باید راسره اجماع وکړي .
نه همسایګان د خپلو ناروا ګټو خلاف له ما سره توافق کولای شي او نه دوی (پاکستاني او ایراني استابلشمنت) سره کومه اجماع کېدای شي .
پدې سلسله کي هغه نظام او سیستم چي اتلس کاله دلته په ملیاردو پیسو او وینو جوړ شوای او حد اقل دغه شکلي موجودیت چي له نشته نه، ښه دی. دلته یوه اداره شته او وجود خو لري، بې محتوی وه او ده خو سیستم یعني پارلمان،

اجرائیه قوه او قضاء جوړه ده ددې پر ځای چې دې ته محتوی ورکړي، سیستم نهادینه کړي، وايي او تأکید لري چې دا ټول ړنګوو او له صفره بيا پيل کوو. داسي خبر ښوائي دښمن او خاين کولای شي. دا دشمنانه، خاينانه او د پردو اجندا ده.
داسي غوښتنه او داسي مطالب د سولې د میکانیزم د دقیق توافق نه پرته او د نړیوالو د تضمین نه پرته او د ټولو جوانبو له توافق پرته او د یو شمېر مقدماتي توافقاتو پرته افغان ضد، ملی خیانت او دا تأکید کوونکي یا یابوان، یا اجیران او یا د قدرت د رسیدو لېونیان او یا د پاکستان د ادارو اسیران دي، بل څه نه شي کېدای.
مؤقته اداره د پردو او دښمن اجندا ده او په کلکه ردوو! درنګولو پر ځای پر محتوی ورکولو سرمایه ګذاري او تمرکز وکړئ!
او هو د افغان حاکمیت پر ضد د مسلحو مخالفینو د جګړې مبرر یوه ستره او بنیادي بهانه او ددوی مبرر او توجیه په افغانستان کې د کفري هېوادو د پوځ حاکم وجود ویل کېده اودی چې د طالب او مخالفینو په ځانګړي توګه د طالب د صفوفو او افقي رهبری ته وړاندې کېده او استناد پرې ولاړ وه. داچې دا بهانه او یا مبرر نفیه او د جګړې دا یو ستر لامل منتفي د طالب او امریکې تر مینځ د امریکې او طالب ډلې تر مېنځد سوله‌ییز توافق روسته عملي شو نو دا په ښکاره د سولې په استقامت اقلاً په ظاهر کې غټه او ستره برياده .
افغان ځواکونه باید خپله په خپلو متو د مستقلي دفاع صلاحیت باید ولري چې طالب دهغو ړنګول هم غواړي !
هو که افغانان د بهرنیو له مداخلې خپلو مېنځو کې پرېښودل شي د بهرنیو پوځیانو ته افغانستان ته ضرورت او اړتیا به له مېنځه ولاړه شي. افغانان به د جنګ د دوام په صورت کې هم د وطن او خلکو نه د دفاع توان ولري. د بهرنیو د عدم مداخلې خبرې دې په ټولو خواوو کې مطرح او حل شي .
د مسئلې د هر اړخیزې حل نه پرته د جناب خلیلزاد او امریکې په مقدماتي شوې موافقې کې پاکستان او طالبانو دواړو غوښتنو ته مثبت جواب ورکول دې چې دا سخت خطرناکه وینم. دې ته نادرست تنازل ویل کیږي.پاکستان د مذاکراتو نتیجه او پایلې نه بلکې د امریکې تنازل د پاکستان او طالب غوښتنو ته ښکاره مظهر او سند دی. داچې د امریکایی جانب لخوا ویل کېدل چې طتلب یسره به توافق په کل او یا په هیڅ کیږي او اوس دا دوه پاکستانی مطالباتو توافق؟! تسویدیږي او دغه امریکایي تنازل ته توافق ویل کیږي. داحالت حد اقل ځان غولونه او د سپیني مانۍ غولوني ادامه ده. نړۍ خپل قضاوت او برداشت له دغه تنازله لري او عواقب یې د پاکستان په ګټه، په لمړي سرکې دي.
د جزیی ورکولو سیاست به ډېر بد عواقب ولري !
زمونږ هریو ته په کار ده ددغه منطق په عاملو د افغان اولس پاکستان ته د ګونډه کولو هڅې مخه ونیسو او دا کار ان شاء الله تعالی) ممکن دی. بې پایانه پای